# افغانستان آزاد – آزاد افغانستان

**AA-AA**

چو کشور نباشد تن من مبـــاد بدین بوم و بر زنده یک تن مــباد
همه سر به سر تن به کشتن دهیم از آن به که کشور به دشمن دهیم

afgazad@gmail.com www.afgazad.com

| مسایل ایدیولوژیک | Ideological |
|---|---|

محمد هارون خپل شعشعي

۰۴ دسمبر ۲۰۱۱

## د
## علي محمد مُخلِص
## عرفاني فرهنګ
## د
## محمد هارون خپل شعشعي
## ليکنه او څېړنه
## ۲۴

**۶۶- درد او بلا :**

په اسلامي تصوف او عرفان کي زياتره د درد، مصيبت، ربړ او عذاب په اړه خبري کيږي . عارفان او صوفيان لوړه او بېره، رنځ او تکليف، مصيبت او ابتلاً تول د خپلي ناپايه ميني په لار کي د حق تعالی ازموينې ګڼي . د دوی په اند، د دونيا بېوزلی او سختی، ناخوالي او پرېشانی، غمونه او کړاونه ګرده د رېښتيني ميني محکونه اومعيارونه دي . بې نيازه ښښتن تل د خپلو سرسپارلو دوستانو سپېڅلي مينه، په همدې محکو او معيارو ازمويي . دغه راز، عارفان باور لري، چي دونيا پالونکي د لذت او شهوت په غشي د ابليس ښکار دي؛ خو آخرت پالونکي د غم او درد په غشي د حق تعالی ښکار دي . د الهي ميني حقيقي لارويان، د سختيو او مصيبتو په امتحان کي تر برياليتوب وروسته د وليانو او نيکانو په ځانګړي ډله کي ځای نيسي .

لکه څنګه چي ګورو، په اسلامي تصوف او عرفان کي درد ،کړاو، وير او ناورين نه يوازي د خدای تعالی بدمرغي او شقاوت نه ګڼل کيږي، بلکي د پروردګار د داسي بې ساري پېرزوينې او وياړ په سترګه ورته کتل کيږي، چي يوازي د حق تعالی دسپېڅلو او مخلصو دوستانو په برخه کېدای سي . د عرفاني سالکانو په عقيده، بې درده انسانان تل د خدای له دې لوړي او ستري پېرزوينې څخه بې برخي دي .

د دردمندی ، صبر او زغم په باب د سالکانو نظريې د ډېرو نورو عرفاني مسألو په شان، قرآني منشأ او رېښه لري . د بقري د سوري په يوسلو پينځه پينځوسم ( ۲: ۱۵۵) آيت کي په بېلا بېلو دردو اوکړاوو سره د حق تعالی د ازمويلو يادونه سوې ده : « و لنبلونکم بشئ من الخوف و الجوع و نقص من الاموال و النفس و

الثمرات و بشر الصبرين » ياني تاسي په ببره، لوږ، مالي زيان، ناجوړی او د بچيانو په مړينه ازمويو . هر چا چي په دي زيان او مصيبت کي صبر وکړ، هغه ( صابر) ته ( اې محمده!) د جنت زېرې ورکړه . د بقرې د سورې په يو سلو شپږ پينځوسم ( ۲: ۱۵۶) آيت کي د هغو صابرانو يادونه راغلي ده، چي په هر ډول درد او کړاو کي د خدای تعالی شکر باسي؛ او دعزوجل ښتن بې مثله ذات، خپله مبدأ او معاد ګڼي :« الذين اذا اصابتهم مصيبة قالو ان لله و ان اليه راجعون » ياني هغه کسان چي د رنځ او غم پر مهال وايي، موږ د خدای ( مال او مملوک) يو؛ او بيرته ( په آخرت کي) وهغه ته ورځو .

د رسول الله ( ص ) په يوه مبارک حديث کي د الله تعالی له خوا په درد ، رنځ، مصيبت او بدمرغی سره د مؤمن د ازمايښت مسألي ته داسي پاملرنه اړول سوې ده : « ان الله يجرب المؤمن بالبلأ كما يجرب احدكم الذهب بالنار » ياني الله تعالی په رېښتيا سره، مؤمنان داسي په ربړ او درد ازمايي؛ لکه ستاسو څخه چي څوک زر پر اور و ازمايي۱ . همدغه راز، د سرور العالمين - حضرت محمد ( ص) په يوه بل حديث کي راغلي دي، چي په رشتيا سره حق تعالی د دردمن او خوږمن انسان زړه خوښيي؛ او د غم و درد له خاوندانو سره مينه لري . په دې ډول ګورو، چي په اسلامي تصوف او عرفان کي د درد او بلا، ربړ او عذاب خوښول ژوري قرآني او اسلامي رېښې لري .

د پارسي ژبي دعرفاني ادب علمبردار- حکيم آدم سنايي ( د پينځمي هجري پيړی د دوهمي نيمايي په لومړييو يا منځنييو کلونوکي، په غزني کي زېږېدلئ؛ او د ۵۲۵ - ۴۵۵ هـ ق کلونو تر منځ مړ سوئ ) د درد عرفاني فلسفه داسي بيانيي :

« . . . هر که را درد راهبر نبـود
مر اورا از آن جهان خبر نبود . . . ۲»

د پارسي عرفاني ادب وتلي او منلي ستوري- شېخ فريدالدين عطار نيشابوري (۵۴۰ - ۶۱۸ هـ ق ) د درد او مصيبت د فلسفي په اړه داسي وايي :

« تا نگردی مرد صـاحب درد تـو
در صف مردان نباشی مرد تو
هر که را اين حسرت و اين درد نيست
خاک بر فرقش که او خود مرد نيست ۳ »

اسلامي عارفان او متصوفان دا نظريه نه مني، چي ګوندي په اسلامي تصوف او عرفان کي د درد او کړاو ستاينه، له دونيايي لذتو او ښېګنو څخه د پر شا کېدو په خاطر د بوديزم يا نصرانيت تر اغېزی لاندي سوې ده؛ ځکه په اسلامي تصوف او عرفان کي همېشه د دونيا او آخرت يا مادي او معنوي ارزښتو تر منځ د اعتدال يا منځنی لاري، لاربنوونه سوې ده . اسلامي صوفي او عارف هم له خپل خالق سره مينه لري؛ او هم د دونيا په بازار کي د ژوند چاري پر مخ بيايي؛ په هيڅ حالت کي له خدايه ليري نه يي؛ د ژوند خوږو او ترخو ته په ورين تندي هرکلی وايي . د ښادی او خوشالی پر مهال هيڅکله شُکر نه هېريي؛ او د غم و مصيبت پر مهال هيڅکله نامېندي نه کيي . د پيغمبر ( ص) حديث دئ، چي وايي : « لا رهبانية فی الاسلام » ياني په اسلام کي ګوښه توب، خلوت ګري او د دونيا پرېښوول نسته . د دې پر ځای اسلامي تصوف او عرفان د خدای عبادت، د مخلوق خدمت، د خلګو لاربنووني او جهاد ته پام اړولئ دئ، چي په پيل کي تول د « احسان » په نامه يادېدئ . دې ډول تصوف ته « مثبت تصوف » هم ويل کيږي . په داسي حال کي، چي په بوديزم او نصرانيت کي د تصوف او

عرفان لارویان، د منفي تصوف په بنه د رهبانیت لمنې ته پناه وړي؛ خلوت او عزلت غوره کیږي؛ او د دونیا له تولو ښیګڼو او لذتوڅخه مخه اړیږي .

د حق تعالی په دردونو خوښ عارف ، علي محمد مخلص ، په خپلو نظریوکې د درد او بلا د عرفاني رېښې د شنلو دپاره د رسول الله ( ص) په دې مبارک حدیث استناد کیږي، چې وايي : « لا سبیل الی الله الا بالبلاء » یا نې بې درد او کړاوه وخدای تعالی ته د رسېدو بله لار نسته . ده، په خپل عارفانه کلام کې په وارو وارو د درد او رنځ، ناخوالو او کړاوو زغمل د الهي قربت د ترلاسه کولو یوازنۍ لار بللې ده . مخلص باوري لري، چې د خدای د مینې بې سرتېر او بې هوښه مینان په ډېري خوښۍ او ځَوَب د بلاوو و خولې ته ځانونه اچيي؛ په ورين تندي د ژوندانه دردونه او شواخونونه ګالي؛ او له هيڅ ناکامۍ او پرېشانۍ څخه نامېنده کېږي . د مخلص په عقیده، لکه څنګه چې پولاد په ډېرو سوټک وهلو کلکېږي او سختېږي، دردونه ، اېتونه او ناورینونه هم د خدای تعالی د سپېڅلو او سرسپارلو دوستانو بې غرضه مینه، همداسې پیاوړې کيي :

د مولا په لاره ځي یو یو په متــې
دغه لار پورته په ستوغ، ښويي په ختې
ځړه دو سړی په ډېر محنت پر خېــژي
نادانان پر لار وښويي درنې څــتې
څو تر ځان و مال تر زن، فرزند تېر نشي
د مولا، د ده تر میان کاني دي کوتــې
په دغه لار کښې تګ په شواخــون دئ
دې په لاره کښې پرتې د بـلا ګټــې
پر دې لار آزمېنت ډېر دئ مردانه ځـــه!
په کمکې پتکې راضي شه تر خرتــې
دلذت په سبب در په در مه ګــرځه!
تر قليه پولاد خوشنود اوسه په بټــې
مؤمنان په بلا و آزمي خدای هســې
لکه زر چې و آزمي په سرې سکروتــې
چې صابر شي په بلا دوست يې قبول که
ناصبور له بلا ژاړي ورتې ورتــې
اې مخلصه فهم درست ور باندې روڼ کړه!
د سر سترګې کړه د زړه په لورې غټې

همدا عرفاني نظریه په یوه پارسي مثنوي کې داسې بیانيې :

« مؤمنان را حق تعالی در جهان
بیازماید بخوف و جوع شـــان
هم به نقص مال و جـــان هم ثمر
هم به رنج و در بلاء ای نـــامور
تا نماید حال او به هـــر کسی

کیست صـابر در بلاء حق بسی

هر که صبر آورد در رنج و بلاء

مژده او را ز حق جله و عـلا ء

صبر کن در دین تا اندر جــرح

کین شکیبایست مفتـاح الفرح

صبر کن اندر بلاء ای مرد دیـن

گر رجاء داری ز صبر صابرین . . . ۴ »

د خوارۍ او دردمندۍ په رمز او راز خبر عارف، علي محمد مخلص، د خپلي عارفانه شاعرۍ په پښتو دیوان کي بیا هم د اسلام د ویاړلي پیغمبر- حضرت محمد مصطفا ( ص ) دې مبارک حدیث ته اشاره کیي : « البلاء مؤکل بالانبیاء ثم بالاولیاء ثم بالمؤمنین » یاني درد او کړاو لومړی د انبیاوو، بیا د اولیاوو او وروسته د مؤمنانو برخه ده . مخلص، د قرآني نصوصو او نبوي حدیثو په رڼا کي د عرفاني سالکانو د درد او بلا په باب استدلال کیي، چي د مینې په لار کي درد او کړاود عاشق زړه پاکیي . دی باور لري، څوک چي درد او عذاب ونه ویني، د زړه صفا هم نسي مونداۍ . تر څو زړه د حجابو او خنډو په لیري کولو سره د روښانه هینداري ځانګړتیا پیدا نه کړي د الهي انوار و د ځلېدو او د باطني پوهي د تر لاسه کولو لار نه ور ته پرا نیستل کیږي؛ او په پای کي هغه لوړ مقام ته نه رسیږي، چي د ذوالجلال حرم باله سي . مخلص، په یوه ښایسته غزله کي، د اسلامي تصوف او عرفان له نظره د درد او ابتلاً همدا نظریه داسي انځور کړې ده :

د عاشق د عشق له درده دئ حاصل دېر

چي بې یاره پر نورڅه نه دئ شاغل دېر

چي د یار درد یې په زړه کي همخانـه وي

په خاطر کښي به یې نه ورځي باطـل دېر

د عشق درد له خدایه غواړه که پوهېــږې!

چي بې درد صورت له حقه وي غـــــافل دېر

څو د درد مهار یې نه کاندي پر پــوزې

د بلا پر لوري نه درومي عاقل دېر

د عشق بحردئ خونخوار د عاشقانـو

کم همت عاقل ولاړ دئ پر ساحـل دېر

د عشق درد زړه شکسته که په ګوګـل کښې

دبې درد زړه سخت سنګین دئ تر قاتل دېر

درد قوي صورت عاجز که بې قــوته

له دنیا یې پر عقبی کاندي مــایل دېر

د عشق درد یوه ذره تر جهان بِه وي

په دا قول باور شوئ د قابـل دېر

د فرعون لعین چي درد په زړه کښي نــه و

ځکه ځان یې په خدایي مانه مضل دېر

درد، بلا د انبیأ، اولیأ برخــه

له دې برخي نصیب نشته د جاهل ډېر

درد تحفه ده پر دوستانو نــازل شوې

د بېلک د تحفي نه وینم قابل ډېر

زړه صافي، صفا د زړه حاصـل له درده

په صافي به څه پوهېږي روغ سنگـدل ډېر

د عاشق د زړه له درده به خبــر وي

چي يي زړه د عشق په توره وي گایل ډېر

د هر رنځ علاج ممکن دئ لــه طبیبه

د عاشق رنځ لا دوا گورم هایـل ډېر

د عشق خوان يي د مخلص د ورِاندي کښېښنو

غم، ښادي باندي اینگولي که شامل ډېر

بل ځاى، بیا هم د الهي میني درد ته د زړه د صافي او ځراغ په سترگه گوري؛ قناعت، صبر او رضأ له هر ډول درد او بلا څخه د ژغورني یوازنى لار گني :

د عشق درد زړه نوراني، صفا، روشن که

د بې درد زړگى ډېر تور وي له آبــنوسه

قناعت، صبر، رضـأ غواړه له خدایه

قانع دل، صابر، راضي خلاص له بلا شي

قناعت، صبر عطأ د لوى بادشــاه ده

قانع دل خوشنود په دین هم په دنیا شي

چي په خپله بخره خوشالیږي له خدایــه

په جهان کښي غم، اندوه لره پیدا شي

اې مخلصه! محبت غواړه له خدایــه

پر مُحب باندي آسان درد و عنا شي

په درد او پرېشانى کي د صبر او زغم مسأله، زموږ د عارف شاعر، علي محمد مخلص، په پارسي شاعرۍ کي هم، وار وار یاده سوې ده . په یوه مثنوي کي خواري ، سختي، غم او ناورین په ظاهره بلا، خو په باطن کي تلپاته خزانه گڼي :

« رنج و محنت گر به ظاهر خود بلاست

آن به باطن گنج باقی لا فناست ۵ »

مخلص، درد او عذاب دعارفانه میني مهم او اساسي راز بولي؛ او هغه څوک د عارفانه سیر و سلوک وړ نه گڼي، چي په چغو او نارو له درد او کړاوه سر ټکيي:

« هرکه را دردیست درمانش مبـاد

هر که درمان جوید جانش مباد

کفر کافر را و دین دینـدار را

ذرۀ دردت دل عطار را ۶»

په آخرت کي د خالق تعالی په وړاندي د درد او رنځ د ښتنانو هغه لوړي درجي ته پام را گرځيي، چي نور خلگ بې د تر لاسه کولو ویش و واخ کيي :

« . . . چون ببیند رتبه اهل بـلا

دیگران گوید ای خلاق ما

کاشکی مرا به مـقراض سِکِین

گوشت ببریدی بدنیا بر زمیـن

تا بدادی این همه رتبه مـرا

کاش زین رتبه شدی حبه مـرا

تا بصف صابران داخل شدی

رتبۀ ایشان مرا حاصـل شدی

صبر کردن بهتر بود

زانکه جای صابران بر تر بـود

هر بلای کز خدا مـرسل شده

اول بر انبیاء نـازل شده

بعده بر اولیاء صـادر شده

پس بر مؤمن آن بلاء ظـــاهر شده . . . ۷ »

مخلص، عرفاني سالكان دخدای په لار کي د خپلي میني د اثبات دپاره د درد او بلا وازمويني ته ور بولي؛ او د عشق د میدان غبنتلی هغه ځوک گڼي، چي د خپل دوست مصیبتونه او کړاونه په بیه رانیسي :

« گر ترا زهری دهد یار شفیق

شهد پندار و مگر دان رو رفیـق

هر که او از زهر بگریزد چــو دود

مر او را مه شمر عـزیز ازو دود

گر تو دعوی محبت میکنی

و از بلاء و رنج نفرت میکـنی

مدعی کاذب خواند مر تـرا

از قطار دوستان راند تــرا

دوست خواهی از بلاء ایمـن مشو

گر گریزی از بلاء مزمــن مشو

تا نیابی لذت از ضـــــربت دوست

گر نخواهی خویش را عاشق نیکوست

عاشقان خواهند زخـم از دست یار

عاشق گل کی حذر دارد ز خـار . . . ۸ »

په یوه بله ښکلي مثنوي کي د هغو مصبیتو او ناورینو یادونه کیي، چي د الهي فرمان له مخي له حضرت ابراهیم خلیل الله څخه نیولي بیا تر امام حسن ( رض) پوري، ډېر نازولي انبیأ او اولیأ ورسره مخامخ سوي دي . وروسته د دې خبري د زباتولو دپاره یو مثال وړاندي کیي، چي درد او عذاب په حقیقت کي د خدای تعالی له خوا د هغه و ډېرو نیژدې او مخلصو بندګانو ته ارزښتناکه تحفه ده :

« . . . سنتش جاریست بر این رفیــق!
تا خلیل خود کند در منجنــیق
زکریا را در ته اره کنــد
جسم اورا از اره پاره کنــد
از ید دشمن ببین یحیــی پاک
قتل گردد خون او میشد بخـاک
طعمهٔ کرمان کند لحم ایـوب
بي گناه و بي خطاء و بي عیـوب
یونس اندر بطن ماهی کــرد بند
چون چرا نیست در ملـکش گزند
پور مریم را عیسی بود نـام
تارک دنیا و بی باک از انـام
کرد بر دست جهودانش اسیــر
از اسیری بر فلک رفته چو تیــر
سرور اولاد آدم را نگــر
از طفیلش جمله عالَم را نگر
فخر دارد انبیـاء از ذات او
پیش باشد در حشر رأیــات او
سنگ کافر بین که دندانش شکست
از قضاء آید چنین کــاری ز دست
شاه مردان علی را بی گنـاه
کشت آن زندیق بی دین و سیــاه
قرة العین علی را در نگر
که ز دست آن یزید بد گهر
کشته گشتن در زمین کر بلا
مبتلا اند انبیاء اندر بلا
بعد از آن قوم ولی را ورثه یـافت
پس از آن بر مؤمنان آن خود بتافت . . . ۹»

درد او بلا د ډېرو عرفاني شاعرانو په کلام کي د محبوب د سوځونکي مینې ارزښتناک ښېلَک یا سوغات ګڼل سوی دئ . د پښتو د لسان الغیب شاعر - رحمان بابا ( ۱۰۴۲- ۱۱۲۸ هـ ق ) په یوه غزله کي د دې عارفانه بیت په وړاندي کولو سره د مخلص د عرفاني فرهنګ دا برخه همدلته را نغاړو:

« زه د یار په درد و غم کښي شادمان یم

لکه ګل د پرېشانی په وخت خندان یم ۱۰ »

لمنلیکونه

۱ مخلص، حالنامۀ پیر روښان ۱۸۰ .

۲ سنایی غزنوی ۳۲۰ .

۳ رزمجو ۲۶۳ .

۴ مخلص، حالنامۀ پیر روښان ۱۸۰.

۵ مخلص، حالنامۀ پیر روښان ۱۸۱ .

۶مخلص، حالنامۀ پیر روښان ۶۵۷.

۷ مخلص، حالنامۀ پیر روښان ۱۸۰ - ۱۸۱ .

۸ مخلص، حالنامۀ پیر روښان ۱۸۲.

۹ مخلص حالنامۀ پیر روښان ۴۰۶ .

۱۰ رحمان بابا ۱۱۱ .